www.baachakhan.com

# د بابا مشالونه



۱۹۸۷م

WWW.BAACHAKHAN.com
Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

# د بابا مشالونه

ټولوونکی : عبدالله بختانی

د قومونو او قبایلو د چارو وزارت
د نشراتو او فرهنګی چارو ریاست

۱۴۰۸ هـ ق

EUREKA OLD BOOKS
Opp: Islamia College
Uni: Road, Peshawar.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

# دبابا مشالونه

د چاپ ځای - دولتي مطبعه - کابل

د چاپ شمیر - ۵۰۰۰

د چاپ نیټه - ۱۳۶۶ هـ ش

د چاپ مهتمم - محمد انور شمسه خیلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

فخر افغان بابا د کار، عمل او خدمت میړنی رهبر
د کار او زیار، مینې او محبت، ورورۍ او رو ا-
دارۍ، عدل او انصاف په باره کښې ډیر څه ویلي او
لیکلي دي.

هره خبره یې د انسانیت د لارې بله ډیوه ده.

موږ به یو څو دغسې ځلاند، لارښوونکي او لافاني مشالونه
د خپلو عزیزانو ورونو او خوېندو د ژوندانه په لار کښېږدو.
ګوندې منزل یې پرې بې خطره شي او منزل ته ژر ورسیږي.

په مینه
ستاسو خدمتګار بختاني

WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

د قومونو د ژوندي کولو او بيدارولو دپاره داسې
کسان په کار دي چه بې غرضه وي. ديانت دار
وي. ايماندار وي او د خداى دپاره د خپل
قام خدمت ته تيار وي. چه داسې
کسان په کوم قام کښې پيدا شي نو دهغوى
په کوښښونو هغه قام کښې مينه، محبت،
همدردي، وروري او عزيزولي پيدا
شي. هغه قام آباد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

موږ د خدايي خدمتګار يو . موږ د مخلوق

د فايدې او آرام د پاره په ځانو نو

تکليف تېروو . زموږ کار خدمت اخيستل

دی . اګر که خلق موږ سره هر څه سلوک

کوي . موږ به د چا نه د بدلې د اخيستو

کوښښ نه کوو . زموږ فرض

درګذر او صبر دی .



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

زمونږ فرض د دنیا نه ظلم ورک کول دي او مظلوم
د ظالم نه خلاصول دي. که ظالم زمونږ ورور او مسلمان
هم وي.



WWW.BAACHAKHAN.com باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایي خدمتګار ځان ته خدایي خدمتګار
وایي. لیکن خدای ته د خدمت ضرورت نشته.
د خدای خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی
او د خدای مخلوق یوازې مسلمانان نه دي،
ټول د هغه مخلوق دي، که هندو دي، که سکه
دي که عیسایي دي.



www.baachakhan.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

موږ پښتانه خدائي کاراو خدمتګه

ته وایو چه بې د کومې طمعې، غرض او

اجرت نه د خدای د پاره کوو. او

خدای خو خدمت ته ضرورت نه لري

د خدای د مخلوق خدمت د خدای

خدمت دی.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

موږ د خلکو د پوهولو او کښني د مینې، محبت
ورورۍ او قامولۍ د پیداکولو، د تعلیم
د شوق د پیداکولو او د قام نه د غلطو رسمونو
او رواجونو د ورک کولو او د قامي مدرسو له پاره
د مرستو د حاصلولو په غرض کلي په کلي، کور په
کور دورې شروع کړې، او په خلکو کښې هوش، ژوند
او احساس را پیدا کړ. زما د دورو نه پېرنګي
سره ویره پیدا شوه ...

(د انجمن اصلاح افاغنه لومړنۍ دورې)

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

د خدای د پاره او د خپل مظلوم قوم د خاطره خپلی سینی د بغضونو، کینو او پرو جنبونه پاک کړی. ولی چه دی څیزونو موږ تباه کړي او برباد کړي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

که چیري تا سو په رښتیا سره د
خپل قوم او ملک زرغونول غواړئ
نو د غنم د دانې په شان خپل ځانونه -
خاورې کړئ ولې چه کوم یو پورې
یوې دانې ځان خاورې کړې نه
وي ، زرغونیدې نه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

حقیقت دا دی چه پوازې قانون د ملک اصلاح کولی نه شي او نه امن قایمولی شي. د خلقو زړونو بدلولو ضرورت دی. څه وخته پورې چه د خلقو زړونه بدل نه شي جرمونه کمیدی نه شي.

د خلقو زړونه صرف خدائي خدمتګاری تحریک بدلولی شي. څو مره چه دا تحریک خور شي هو مره به د خلقو په زړونو کښې تبدیلي راځي او د دې لازمي نتیجه به په ملک کښې امن و امان وي.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

... چه په ډلو کښې اختلاف پیدا شي

که ډیر ښه او زورور خلک وي هم،

بې کاره شي او د هغوی طاقت د یو بل په

غور ځولو کښې صرف شي.

په خدمت کښې اختلاف نه راځي

اختلاف د خود غرضۍ نه پیدا

کېږي.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

زه چه هرڅه د خپل ځان د پاره خوښوم هغه د خپلو ملګرو د پاره هم خوښوم.

زه اکثر خپلو ملګرو ته وایم چه زما په تقریر، تحریر، خبرو، رویه او سلوک کښې چه کوم نقص وینئ، د هغو نه به ما خبروئ او څه وخت چه هغوی ما د خپلو غلطو نه خبردار کړی، نو زه د هغوی شکریه ادا

کوم او د هغې د اصلاح

کوشش

کوم



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

له

تشدد نه نفرت

له

عدم تشدد نه محبت

پیدا کیږي .



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

انسان هم يو عجيبه څيز دی . څه وخت
چه دې کمزورې شي او همت بايلي ، نو
بيا د خپلې کمزورۍ او بې همتۍ د پټولو
د پاره قسما قسم حيلې او حوالې
لټوي



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

حقیقت دا دی چه دا ټول آسماني مذهبونه

د خدای مذهبونه دي او دنیا ته د اتفاق،

مینې او محبت او د خدای د مخلوق د آرام

او خدمت د پاره راغلي دي.

د هر یو مذهب د پیرو دا فرض دی چه د خدای د مخلوق

له منځ نه کرکه او نفرت لیرې کړي او مینه او محبت

پکښې پیدا کړي او یو د بل سره امداد وکړي.

خو موږ د دې حقیقت نه چا خبر کړي نه یو.



WWW.BAACHAKHAN.com باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

حقیقت دا دی چه نن په مذهب
هم سرمایدارو د خپلې سرمایې په زور قبضه
کړې ده ... رښتینی خدائي مذهب
خو د مخلوق خدمت دی . مینه ده.
محبت دی . انصاف دی.
عدالت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

اختلاف رای همیشه په خلقو کښې وی.
اختلاف رای څه بد څیز نه دی. رسول اکرم (۴)
خو دامت اختلاف رای ته رحمت ویلی دی.
لیکن په موجوده وخت کښې زمونږ د مسلمانانو او بیا
خاص کر زمونږ د پښتنو اختلاف رای زحمت
دی. زمونږ د اختلاف رای همیشه ذاتیات
جوړیږی او ددې ذاتیاتو په وجه، که
چیرې د پښتنو تاریخ وګورې، نو همیشه
تباه شوی او برباد
شوي دي



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

لینن په خپل کتاب کښې لیکي چه د سنه
(۱۹۰۵) د انقلاب زمونږ ډیر ملګري
مونږ سره د سنه (۱۹۱۷) په انقلاب
کښې نه وو بلکه زمونږ مخالف وو.
ولې چه په دغه وخت کښې هغوی
وکیلان، ډاکټران، انجنیران
جوړ شوي وو او
وړوکي سرمایه داران
شوي
وو



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

زما خیال ورځ په ورځ د ځینګو تعلیم او تربیت طرف ته زیاتیږي. ولې چه زه د اخبره د پښتون قوم د پاره خطرناکه ګڼم چه هلکانو له خو دې تعلیم ورکړي شي او جینکۍ دې د علم نه محروم پاتې شي. چه د دې نتیجه به داوي چه زموږ هلکان خو به اول جاهلانو ښځو سره وده نه کوي او که چرې وهم کړې نو اکثر به بې جوړ سمون نه خوري او همیشه به بې کشمکش وي. چه د دې نه زموږ ملک او قوم ته د یو لوی نقصان د رسیدو اندیښنه ده



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

... پستي او بلندي په عمل ده. که د چا

عمل پست وي هغه زړوي که ښځه په کار دي

چه پست وګڼل شي او د چا عمل چه او چت

وي زړوي که ښځه په کار دي چه په درانه نظر و ته

وکتل شي.

خدای خو زړاو ښځه د دنیا د آبادۍ د وه

ملګري پیدا کړي دي او د بشریت د ګاډي دا

د وه پایې دي دا ګاډی په یوه پایه نه شي

چلیدی.



WWW.BAACHAKHAN.COM
باچا خان

زموږ د پښتو ښځې خو ډېرې پاک لمنې، مینه ناکې

او وفادارې دي او ډېرې خدمتګارې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

په جیلخانو کښې ما د خپل قوم په حالاتو

باندې په ښه شان سره غور کړی وو. زه

په دې نتیجه ورسیدم چه په دنیا کښې، هیڅ

قوم بغیر د خپلې ژبې نه ترقي کولی نه شي

او په هغوی کښې علوم او فنون پیدا

کیدی نه شي.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

يوه ورځ زه د امان الله خان ملاقات له تللی وم. ډيرې خبرې مې ورسره وشوې. په خبرو خبرو کښې مې ورته داووې: تاله ترکي درځي، فارسي درځي او نورې ژبې هم درځي، خو خپله ژبه درځي. زما خبرې په هغه باندې ډير اثر وکړو او وعده يې راسره وکړه چه زده کوم به يې. کله چه افغانستان ته واپس شو، زه بمبئي ته دده ليدو ته ورغلم. نو هلته يې ماسره پښتو کښې خبرې وکړې.



WWW.BAACHAKHAN.com باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

د تعلیم یافته کسانو سره به مې چه د ژبې

په باره کښې خبرې وکړې راته به يې ويل چه پښتو

لا د څه ژبه ده ؟ په دې کښې علم نشته . ما

ويل چه ملکه دا نورې ژبې خو د آسمانه نه دي

راکوزې شوې . د هغوى ژبې وينکو خپلې

ژبې ته ترقي ورکړې ده . پښتو چه خپلې ژبې ته

توجه نه ده کړې ، دې کښې د پښتو ژبې څه

ګناه ده ؟ او دا خو زما او ستا ګناه ده .

WWW.BAACHAKHAN.COM باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

چه کوم قوم ته خپله ژبه سپکه ښي هغه

سپک شي او چه خپله ژبه ئي ورکه شي نو ورک شي.

WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

انقلاب د منډې کار او دومره آسان خبر نه دی.

انقلاب د صبر، زغم او سینې کار دی.

انقلاب علم او پوهه غواړي.

انقلاب عالمان او پوهان غواړي چه د پوهې سره قام وروزي او انقلاب ته یې آماده کړي.

د انقلاب د پاره د اشخاصو ضرورت دی.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

بادشاهي خراب شي دي او د قوم او ملک پکښې ډېر نقصان دی. که چېرې نن یو بادشاه ښه هم وي نو سبا به یې زوی بادشاه وي، نو څوک وېلي شي چه ګوندې هغه به هم ښه وي. او بادشاهان کله د خپل قوم ترقي غواړي؟ ولې چه هر وخت دا خیال کوي چه که دا خلک پوه شول نو ما به لیرې کوي. نو هغه هر وخت د قوم د پوهې په لاره کښې خنډ اچوي.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

مونږ بادشاهان جوړول نه غواړو . بادشاهانو ته موضرورت نشته . زمونږ به یو مشروي او د قوم په رایه او رضا او مشوره به وي . او هغه سړي به وي چه د قوم خدمتگار وي . د خان ، غریب او میا ملا فرق به نه وي . بلکه هر هغه سړی به وي چه هغه نیک او ایماندار او د قوم او ملك خیرخواه وي . تکلیفونه او قربانۍ او ډیر خدمت یې د قام او ملك کړي وي او چه د دې مشرۍ اهلیت او پوهه هم پکښې وي زمونږ حکومت به د جماعت د حزب تابع وي جماعت به د حکومت تابع نه وي .

WWW.BAACHAKHAN.COM باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

د ملک د پښتونخوا، زمونږ د ټولو پښتنو
دی. نو مونږ یو سړی نه خان کوو. زمونږ
به کوښښ داوي چه ټول خانان کړو. او
داسې حکومت به جوړوو چه هغه کښې مساوات
وي او د ټولو خلکو پکښې یو شان خیر او فایده وي.
که پوره وي او که سپوره وي په شریکه به وي. امن
انصاف وي. زمونږ به د ټول قوم یوه جرګه وي
او د هغې په خوښه به یو صدر وي.



WWW.BAACHAKHAN.COM باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

www.baachakhan.com

د خدای د پاره پښتنو!
تا سو پوښئ. خپل کور جوړ کړئ.
دا پرې جنبې ذاتیات او دښمنۍ
پرېږدئ. نو دین به موهم ښه شي
او په دنیا به هم آباد او آسوده
شئ.

WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

(c) ketabton.com: The Digital Library
www.baachakhan.com

په خدمت کښې اختلاف نه راځي.

اختلاف د خودغرضۍ نه پیدا کیږي.



WWW.BAACHAKHAN.com
باچا خان

که تږی ده وی که ستړی ده وی د ژوند لوری پښتان وی.



www.baachakhan.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**